دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات
د ټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیته رسانه ها
درسینو کمیته
Media Committee

## مطبوعاتي اعلامیه

**نېټه: ۱۳۹۸ د وږي ۳۱مه**

**د رسنیو کمېټه. کابل:** د ټاکنو قانون د ۷۸مادې د لومړی فقرې مطابق د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو د ټاکنیزو مبارزو وخت ۶۰ورځې ټاکل شوی دی. د ټاکنیزو چارو او تبلیغاتو دغه وخت د قدرت د ترلاسه کولو هڅه بلل کېږي او د قوت او کمزورۍ د ټکو پیاوړي کول د دغه وخت او سیالۍ دودیزې چارې دي. د ټاکنو د قانون د ۷۷مادې د څلورمې فقرې پر اساس ټولې غږېزې، تصویري او چاپي رسنۍ او خبري اژانسونه مکلف دي چې د ټاکنیزو مبارزو پر وخت د ټولو هغو تبلیغاتي پیغامونو په اړه چې له نوماندانو څخه یې د نشر او خپرولو لپاره ترلاسه کوي، د قرارداد له کاپۍ سره یو ځای کمیسیون او د رسنیو کمېټې ته راپور او مالومات ورکړي.

جمعي رسنۍ باید د ټاکنو په قانون کې د ذکر شوو مسوولیتونو او مکلفیتونو پر اساس د قراردادونو کاپۍ د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره د رسنیو کمېټې ته واستوي:

- ✓ **رسنۍ مکلفې دي چې د ولسمشریزو ټاکنو له نوماندانو سره د کړو عقدونو مالي راپور د مالي لګښتونو د ارزونې لپاره د رسنیو کمېټې ته واستوي.**
- ✓ **د رسنیو مالي راپور باید د پیغامونو د نشر بیه، وخت او د نشر تعداد. چې هر پیغام یې څو ځله نشر کړی. څرګند کړي.**

د نوماندانو د تبلیغاتي قراردادونو د کاپیو د نه لېږلو او د جمعي رسنیو لخوا د قانون د نه مراعات په صورت کې یاده کمېټه حق لري چې له قانون، لایحو او طرزالعملونو سره سم چلن وکړي.